# د ستر باچاخان بابا علمي خپرونې

محبوب گل یاسر



کوم قوم چې د علم په کالو ښائسته نه وي نو هغه قوم هيڅ کله ترقي نه شي کولے. او د دې واضح مثال په نننۍ نړيوال ژوند کښې د يورپ هغه کردار دے د کومې په ذريعه چې نن هغوي لګيا دي او نوې نوې تجربې کوي. او نړۍ ئې ځان ته ډېره رانزدې کړه. د قام يو رهبر خپل قام ته په علم ورکولو کښې هم ډېر لوئې کردار ترسره کولے شي. خپل قام مخکښې بوتلے شي. د دوي وده، ترقي او پرمختګ بيا هم د دغې قام په ترقۍ تماميږي.

ستر فخر افغان باچاخان بابا خپل پښتون قام ته د علم په ورکولو کښې ډېر لوئې رول لوبولے دے. او هغه دور کښې په کوم چې فيرنګي سامراج د ټول هند اولس د غلامۍ په زنځيرونو کښې تړلي وو. نو بيا داسې قام به څنګه د علم پلو رامخکښې شي. يا به ځانونه د غلامۍ نه آزادوي او يا به علم حاصلوي. ځکه چې دا دغه وخت ؤ چې د فيرنګي سامراج پيسه ټک وظيفه خواره مليان هم يو ځائې شوي وو. او فيرنګيانو د دغې خپلو بريخو مليانو وظيفه خورو ته وئيل چې څوک درنه د علم خاوند نه شي ګني نو بيا قيصه ورانه ده. او لکه چې دا قام علم حاصل کوي نو نو بيا خو به آزادي ارو مرو غواړي نو د غلامۍ په دغې تور دور کښې فيرنګيانو خپلو مليانو له د تعليم خلاف يوه نعره راويستله چې :

سبق د مدرسې وائي
دپاره د پيسې وائي
جنت کښې به ئې ځائې نه وي
په دوزخ کښې به غوټې وائي

د دې سازشي نعرې په ذريعه ډېر خلق د علم د کالو نه محرومه پاتې شول. خلقو خپل بچيان د سکولونو نه راپاخول او دا ور ته د ګناه ډېر لوئې کار ښکاره شو. ولې ستر باچاخان بابا چې دا حال وليدو نو هغه يو سوچ وکړو. او د علم د حاصلولو او د پښتون اولس د ترقۍ دپاره ئې اسلامي مدرسې

ځائې په ځائې جوړې کړې. وړومبۍ مدرسه په اتمانزو کښې جوړه شوه. او بیا وروستو په ټوله پښتونخوا کښې د دې څانګې خورې شوې. د دې مدرسو شمېره څه درې سوو ته رسي. دې کښې په درس هغې خدائي خدمت ګارانو کولو چې چا به د دې په بدل کښې څه پیسې ټکې نه اخستې. ډېر پکښې داسې خلق وو چا چې د دې مدرسو د درس د خاطره خپلې سرکاري نوکرۍ پرېښودې. او دا لوئې سعادت به ئې حاصلولو. لکه ماسټر عبدالکریم. دې کښې به د اسلامي علومو سره سره دنیاوي علوم هم ورکول کېدل. او په دنیاوي علومو کښې به داسې علمونه هم شامل وو څه ته به ئې چې کسب وئیل. او د فارغېدو په حالت کښې به یو کس ځان له په دې لس شل روپۍ حلالې ګټلې.

ستر باچاخان بابا به نه صرف د دې مدرسو نګراني کوله بلکې د دې د حالت د معلومولو دپاره به ئې د دې دورې هم کولې. د دوي نه به ئې د دوې د ضروریاتو پوښتنه کوله دغه به ئې ورله پوره کول. د دغې مدرسو خاص مقصد صرف د الله رضا او پښتون اولس ته زده کړه ورکول وو. ګاندهي جي هم څو څو ځله د دغې سکولونو ننداره کړې ده. او ماشومانو له ئې حوصله افزائي ورکړې ده. ستر باچاخان بابا د ماشومانو د حوصله افزائۍ دپاره به دوي له قلمان،پنسل کاټې او کاپۍ ورکولې. باچاخان بابا خپله د علم قدردان ؤ. دخپل علم وړومبۍ شروع ئې د کلي د جومات نه کړې وه. بیا وروسې د پېښور میونسپل بورډ هائي سکول، مشنري سکول ایډورډ مشن هائي سکول کوهاټ،علي ګړه اسلامیه سکول او وروسې بیا انګلینډ ته د نور تعلیم دپاره لاړو. هم دغسې د ستر باچاخان بچو عبدالعلي خان، عبدالولي خان او عبدالغني خان هم لوئې لوئې تعلیمونه حاصل کړي وو. که عبدالعلي خان د تعلیم په شعبه کښې لوئې نوم پېدا کړے ؤ نو هم دغسې عبدالولي خان د پاکستان په سیاست کښې. ورسره عبدالغني خان په فن، آرټ او شعر و ادب کښې لوئې نوم دے. د دې وجه د دوي علمونه او د باچاخان بابا هغه علمي مینه وه. کومه چې دۀ د دې د قدر ستائینه کوله.

باچاخان بابا دا غوښتل چې د هر پښتون بچے دې د علم په کالو ښائسته شي. دې سره به وده هم وکړي او په مخکښې به هم لاړ شي. په ۱۹۱۰ء کښې ستر بابا په خپل کلي اتمانزو کښې د مولوي عبدالعزیز په وساطت سره یوه مدرسه سکول جوړ کړو. چې د کلي ماشومانو ته به پکښې زده کړه ورکولے شوه. باچاخان به په جیل کښې هم د کتابونو لوست کولو که هغه به د پاکستان جیلونه وو او که د هغې نه مخکښې د غلامۍ په دور کښې د هند زندانونه خو دې ټولو کښې به باچاخان د علم آبیاري کوله. لوست به ئې کولو. او نورو بې علمو ته به ئې سبق ښودلو.

د فیرنګیانو په دور کښې چې څومره مشاعرې او سټېج شوګانې جوړې شوې وې. نو دا هم د ستر بابا د علمي کمال هغه مینه وه چې د دغې پروګرامونو نه به اوربدونکو او کتونکو ډېره فائده

اوچتـولـه. د انـقلاب او د وطن د آزادۍ به چې کوم
نـظـمـونـه خـلـقو واورېدل نو دغه به بیا په ذهنونو
کښې پـراته وو. او پوهه به خپرېده. دا هغه تور دور
ؤ چې شـاعـر تـه بـه د آزادۍ پـه نظم د جیل تورې
تمبې ښودلې کېدې.

په ۱۹۲۸ء کښې ستر باچاخان بابا د حج د
ادا کـولـو نـه پـس په پښتو ژبه کښې یوه اولسي،
مـعـاشـرتـي،انـقـلابـي،ادبي او اصلاحي مجلـه د
,,پښتـون،، پـــه نـوم اجراء کړه. چې د هغې ډېرې
ګټورې نتیجې راوتې.

پـه دې کښې به داسې اصلاحي او انقلابي
لیکونه وو کوم به چې د عوامو د زړونو یو آواز ؤ.
او د غـلامۍ پـــه دغې تور دور کښې بـه بیا داسې
لیکونه په لوستونکو ډېر ښه لګېدل. ,,پښتون،،
مـجله هم د علم یوه لویه ذریعه وه او د دې په وجه
دا دوه چې خـوار پښـون اولـــس د جیـل د تیَرو نـه
راووځـي او عـلـم زده کوي او کله چې علم حاصل
کړي نـو پوهه بیا هله حاصلیږي او د پوهې نه پس
بیا د علم کاروان په مخکښې مخکښې روان وي.
بـاچـاخان په افغانستان کښې په خپل کور شیشم
بـــاغ (جــلال آبـاد) کښې هـم د زده کړې د یـوې
یـونیـورستۍ جوړولو اراده لرله. د سردار داود په
حـکـومـت کښې د دغې یـونیـورستۍ سروے هم
شوې وه او وئیل به ئې چې دې کښې به یتیمانانو
ماشومانو له زیاته داخله ورکوو. رحمت شه د ستر
بابا په روح.

☆☆☆

## تعزیت

دا خبـر مـو پـه ډېر افسوس ترلاسه کړو
چې د نـومـوړې شـاعـرې او لیـکـوالې سیـده
حسینـــه ګـل والـد صـــاحـب سید مظهـرشـاه
کـاکـاخیـل پـه حـق اورسېـدو. انا لله وانا الیه
راجعون.

سیـد مـظهرشاه کاکاخیل د خپل وخت
یو مستند ډرامه نګار،افسانه نګار،کالم نګار او
ډېر منفرد مضمون لیکونکے ادیب ؤ. د ریډیو نه
ئې ډرامې نشـر شـوي دي. او په اخبارونو کښې
ئې افســانې،کـالمونه او مضمونونه خواره واره
پـراتـه دي. د سیـد مظهرشاه کاکاخیل مرګ په
ډېـرو معنو کښې د پښتو ادب دپاره هم ډېر زیان
دے. خـو هغه چې په خپل وخت کښې په کومو
مـوضـوعـاتو قلم پورته کړے ؤ دغه ډېر سخت
وخـت او سخت حالات وو. بلکې دغو لیکونکو
د دې دور لیـکونکو ته د لیک کولو دپاره لارې
پـــرانستې دي. چې تـــراوســـه پـرې د دې دور
لیکونکي روان دي.

,,پښتون،، اداره په دې دروند غم کښې
د هـغوي د کورنۍ سره برابر شریکه ده. د لوئې
خـدائے په دربار کښې لاس په دعا یو چې هغوي
ته په جنت الفردوس کښې مقام ورکړي او پاتې
خلقو ته د زړۀ صبر. آمین ثمه آمین